مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هېواد

ورځپاڼه

سه شنبه | ۲۸ / محرم الحرا م / ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۳ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/14 م | خصوصي ګڼه: ۸۵ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۵۶ مه | دوره: اتمه

د بهرنیو چارو وزیر په قونسلي چارو کې د ایران د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال سره لیدلي

د اسلامي امارت بهرنیو چارو وزیر، مولوي امیر خان متقي په قونسلي چارو کې د ایران بهرنیو چارو وزارت له مرستیال، وحید جلال‌زاده سره کتلي دي.

بهرنیو چارو وزارت لیکلي، چې په دې کتنه کې د افغانستان او ایران ترمنځ پر دوه‌اړخیزو اړیکو، اتباعو ته د قونسلي خدمتونو د لا ښه‌والي او سرحدي همکاریو اړوند موضوعاتو خبرې شوې دي.

په خبرپاڼه کې د ښاغلي متقي په حواله ټینګار شوی، چې په ایران کې افغان اتباعو ته د قونسلي خدمتونو وړاندې کول باید لا اسانه، چټک او د منل‌شویو معیارونو مطابق وي.

بلخوا د ایران بهرنیو چارو وزارت مرستیال هم د ایران او افغانستان ترمنځ قونسلي همغږۍ مهمه بللې ده.

نوموړي هیله څرګنده کړې، چې له افغان لوري سره روانې خبرې به د دواړو هېوادونو د وګړو د قونسلي چارو لا ښه تنظیم او اسانتیاوو د پراختیا لامل شي.

له سلو ډېر روسي سوداګر په افغانستان کې پانګونې او سوداګرۍ ته لېوالتیا لري

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې مشر، سید کریم هاشمي، د روسیې او قزاقستان له ګډ سوداګریز پلاوي سره په لیدنه کې د سوداګریزو، اقتصادي او پانګه‌اچونې همکاریو د پراختیا پر لارو چارو خبرې کړې دي.

هاشمي د افغانستان د کانونو، کرنې او صادراتي ظرفیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او روسي او قزاقستاني پانګوال یې وهڅول، چې د کانونو استخراج، صنعتي تولید، پروسس او نورو تولیدي برخو کې پانګونه وکړي.

نوموړي همدارنګه د دواړو لوریو ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا، سوداګرو ته د ویزو د اسانتیاوو، د مخامخ سوداګریزو غونډو د جوړېدو او د ګډو همکاریو د هوکړه لیکونو د لاسلیک وړاندیز وکړ.

بلخوا، د روسیې د سوداګریز . . .
۲مخ

ذاکر جلالي:

د افغانستان او تاجیکستان فعال ډیپلوماتیک حضور به دوه اړخیزې اړیکې لا پیاوړې کړي

د بهرنیو چارو وزارت د دویم سیاسي ریاست رئیس ذاکر جلالي ویلي، افغانستان او تاجیکستان د خپلو ګډو ګټو، سیمه‌ییزو اړتیاوو او متقابلو اړیکو د لا پیاوړتیا لپاره فعال ډیپلوماتیک حضور ته اړتیا لري.

نوموړي له رسنیو سره په خبرو کې هیله څرګنده کړې، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ وروستي تعاملات به د سیاسي اړیکو د پراختیا، د متقابل باور د زیاتوالي او په بېلابېلو برخو کې د همکاریو د لا پراخېدو . . .
۲مخ

سرلیکنه

ښه ګاونډیتوب او متوازن تعامل؛ د افغانستان د بهرني سیاست بریالۍ تګلاره

په نړیوالو اړیکو کې د هر هېواد بریا هغه وخت پیاوړې کېږي چې له خپلو ګاونډیو سره د متقابل احترام، ګډو ګټو او دوامدار تعامل پر بنسټ اړیکې ولري. افغانستان، چې له څو مهمو هېوادونو سره ګډې پولې لري، تل هڅه کړې له خپلو ګاونډیانو سره داسې اړیکې ولري چې د دواړو ملتونو په ګټه وي. د ایران له چارواکو سره د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر وروستۍ کتنه هم د همدې سیاست دوام څرګندوي. د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي په قونسلي چارو کې د ایران د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال وحید جلال‌زاده سره کتلي او د دواړو هېوادونو پر دوه‌اړخیزو اړیکو، قونسلي خدمتونو او سرحدي همکاریو یې خبرې کړې دي. په دې لیدنه کې مولوي امیرخان متقي ټینګار کړی چې افغان او ایراني اتباع باید چټک، اسانه او د منل شویو معیارونو له مخې قونسلي خدمتونه ترلاسه کړي. د ایران لوري هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د قونسلي همغږۍ د پیاوړتیا ملاتړ کړی دی. الحمدلله، نن افغانستان له خپلو ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره د متوازن او فعال تعامل سیاست پر مخ وړي. د ایران، چین، هند، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، روسیې او نورو هېوادونو سره د اړیکو پراخېدل ښیي چې افغانستان نور یوازې د امنیتي موضوعاتو له زاویې نه، بلکې د اقتصادي، سیاسي او سیمه‌ییزو همکاریو له لیدلوري هم مهم ځای خپلوي. دا بدلون د هېواد د بهرني سیاست د پخوالي څرګندونه کوي. د قونسلي خدمتونو اسانه کېدل د زرګونو افغانانو د ورځنیو ستونزو د حل معنا هم لري. هر هغه اقدام چې د ویزو، اسنادو، تګ راتګ او نورو قونسلي چارو بهیر اسانه کړي، د خلکو وخت او لګښت سپموي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور فضا نوره هم پیاوړې کوي. له همدې امله دا ډول تفاهمونه عملي ارزښت لري او مستقیمه ګټه یې عامو خلکو ته رسېږي. د افغانستان او ایران اړیکې یوازې تر قونسلي همکاریو محدودې نه دي. دواړه هېوادونه د سوداګرۍ، ترانزېټ، انرژۍ، کرنې او نورو اقتصادي برخو کې هم د همکاریو پراخ ظرفیت لري. څومره چې سیاسي تفاهم او متقابل باور پیاوړی کېږي، ور سره اقتصادي فرصتونه هم پراخېږي، سوداګري زیاتېږي او د دواړو هېوادونو خلکو ته نوې اسانتیاوې رامنځته کېږي. د افغانستان اسلامي امارت په خپله بهرنۍ تګلاره کې تل هڅه کړې چې له ټولو هېوادونو سره د متقابل احترام، نه لاسوهنې او ګډو ګټو پر بنسټ اړیکې ولري. همدې سیاست ته په پام، په وروستیو کلونو کې د سیمې له ګڼو هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي اړیکې پراخې شوې دي او ورځ تر بلې نوي فرصتونه رامنځته کېږي. دا تعامل د افغانستان د ملي ګټو د خوندي کولو او د سیمه‌ییز ثبات د پیاوړتیا لپاره هم مهم ارزښت لري. افغانستان د متوازن بهرني سیاست پر لاره په ډاډه ګامونه اخلي. ان‌شاءالله له ایران او نورو هېوادونو سره به سیاسي، اقتصادي او قونسلي همکارۍ نورې هم پراخې شي. هره نوې لیدنه، هره نوې هوکړه او هر مثبت تعامل د افغانستان لپاره د لا ښه سیمه‌ییز حضور، اقتصادي ودې او د خلکو د اسانتیاوو د زیاتېدو په معنا دی. د همدې تګلارې په دوام سره به افغانستان د سیمې له هېوادونو سره خپلې اړیکې لا پیاوړې کړي او د ګډو ګټو پر بنسټ به د همکارۍ نوې مرحلې ته داخل شي.

د کتاب ارزونې کمېسیون یو شمېر کتابونو ته د چاپ اجازه ورکړه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معینیت اړوند د کتاب ارزونې کمېسیون نوبتي ناسته د خپرونو چارو د معین مهاجر فراهي په مشرۍ ترسره شوه.

په دې ناسته کې د یو شمېر کتابونو په اړه پرېکړې شوې او هغو کتابونو ته چې له اسلامي او افغاني ارزښتونو سره سم لیکل شوي؛ د چاپ اجازه ورکړل شوې ده . . .
۲مخ

مولانا فضل الرحمان:

له افغانستان سره اختلافونه دي د ډیپلوماسۍ له لارې حل شي



د پاکستان د علمای اسلام ګوند مشر د افغانستان په اړه د اسلام‌اباد پر سیاستونو نیوکه کړې او ټینګار یې کړی چې اختلافونه باید د خبرو او ډیپلوماسۍ له لارې حل شي.

مولانا فضل الرحمان په پنجاب کې یوې غونډې ته د وینا پر مهال ویلي، چې له افغانستان سره ټول اختلافونه په زور نه شي حل کېدای او د پاکستان حکومت باید د خبرو او سیاسي تعامل لاره غوره کړي.

ده ویلي: «که تاسو پر افغانستان نیوکې لرئ، زه هم له افغانستان څخه ځینې شکایتونه لرلای شم؛ خو ځینې مسئلې داسې دي ، چې په زور نه؛ بلکې د ډیپلوماټیک بهیر له لارې حل کېږي او دا مسئلې د ډیپلوماسۍ له لارې هوارېږي.» فضل الرحمان همداراز د پاکستان پر کورني وضعیت نیوکه وکړه او ویې ویل، چې دغه هېواد له پراخو اقتصادي، امنیتي او سیاسي . . .
۲مخ

ازبکستاني پانګوالو افغانستان کې د کانونو په برخه کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې

د کانونو او پټرولیم وزیر ملا هدایت الله بدري د ازبکستان له سفیر اوبیېک عثمانوف سره لیدنه کړې.

په دې لیدنه کې دواړو لوریو د ګډو همکاریو د پراختیا او پیاوړتیا، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو د لا ټینګښت او په ځانګړي ډول د افغانستان د کانونو په برخه کې د پانګونې په اړه خبرې کړې دي.

د کانونو او پټرولیم وزارت ویلي، چې په دې لیدنه کې د ازبکستان سفیر د دې وزارت د رهبرۍ له مېلمه‌پالنې څخه د مننې ترڅنګ، په بېلابېلو برخو کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې مهمې بللې او د افغانستان د کانونو په برخه کې یې د پانګونې په موخه د خپل هېواد د پانګوالو د لېوالتیا په اړه خبرې کړې دي. همدارنګه ښاغلي عثمانوف د طوطي میدان پروژې په برخه کې د شته ستونزو په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړي دي.

په ورته مهال د کانونو او پټرولیم وزیر د ازبکستان هېواد د پانګوالو د لېوالتیا هرکلی کړی او ډاډ یې ورکړی، چې دغه وزارت به د بهرنیو پانګوالو د جذب، ملاتړ او هڅونې په موخه هر اړخیزه همکاري وکړي او لا زیاتې اسانتیاوې به ورته برابرې کړي.

د افغانستان او ترکیې ترمنځ د ګرځندوی په پراختیا ټینګار وشو



دوشنبه (۲۷ د محرم ۱۴۴۸) د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري چارو معین مولوي قدرت الله جمال په کابل کې د ترکیې جمهوریت له شارژدافیر سادین آیلدیز سره وکتل او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د ګرځندوی، فرهنګي همکاریو او تاریخي اړیکو د لا پراختیا په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې.

د غونډې په پیل کې مولوي قدرت الله جمال د افغانستان . . .
۲مخ

تخار کې یوه مور او زوی له اووه کلن کورنی بند څخه وژغورل شول

د تخار امنیه قوماندانۍ مسوولین وایي، یوه مېرمن او د هغې کوچنی زوی یې د رستاق ولسوالۍ د بیشکند کلي په یوه کور کې له شاوخوا اووه کلن بند څخه ژغورلي دي.

د مسوولینو په وینا، یاده مېرمن د خپل خاوند له لوري په کور کې بندي ساتل کېده او ماشوم یې د روغتیایي خدماتو لپاره روغتون ته لېږدول شوی دی.

دوی زیاتوي، د یادې پېښې په تړاو تورن کس نیول شوی او د نورو قانوني څېړنو لپاره اړوند ارګانونو ته سپارل شوی دی.

د لغمان موزیم ته ۲۴ قلمه تاریخي اثار وسپارل شول

د لغمان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګي میراثونو د ساتنې عمومي مدیر محمد نادر مخور وایي، چې تازه ۲۴ قلمه تاریخي او فرهنګي اثار د یاد ریاست په موزیم کې ثبت او د فرهنګي او هنري اثارو په رسمي لېست کې شامل شول. د نوموړي په خبره، یاد اثار د ساتنې، خوندي کولو او عامه نندارې لپاره د لغمان په موزیم کې ځای پر ځای شوي، څو څېړونکي، محصلین او نور لیدونکي ترې ګټه واخلي.

د یاد ریاست مسؤلین زیاتوي، چې د دغو اثارو ثبت او خوندي کول د هېواد د تاریخي او فرهنګي میراثونو د ساتنې، مستندولو او راتلونکو نسلونو ته د لېږد په برخه کې مهم ګام ګڼل کېږي. هغوی ټینګار کوي، چې تاریخي او فرهنګي اثار د هر ملت د هویت، تمدن او تاریخي شالید څرګندونه کوي او ساتنه یې د عمومي ارزښتونو د خوندي کولو لپاره ځانګړې اهمیت لري.

د مسؤلینو په وینا، د موزیمونو پیاوړتیا او د تاریخي اثارو . . .
۲مخ

د خطاطۍ هنر؛ د اسلامي تمدن فرهنګي هویت

احمد ولید کنان

که د اسلامي تمدن د زرینو دورو تر ټولو روښانه فرهنګي نښه وپوښتل شي، د خطاطۍ هنر به بې له شکه د لومړیو ځوابونو له ډلې وي. دا هنر یوازې د ښکلو تورو لیکل نه دي، بلکې د فکر، عقیدې، علم، ښکلا او تمدني ذوق هغه ګډ انځور دی چې د څو پېړیو په اوږدو کې یې د اسلامي نړۍ ځانګړی هویت جوړ کړی دی. د اسلامي تمدن ښارونه، جوماتونه، مدرسې، کتابتونونه، ماڼۍ، علمي آثار او تاریخي نسخې د همدې هنر په ښکلا رنګین شوي دي. هر څوک چې د اسلامي تمدن تاریخي یادګارونو ته وګوري، ډېر ژر به درک کړي چې خطاطي د دې تمدن د هنري شخصیت یوه نه بېلېدونکې برخه ګرځېدلې ده. تمدن هغه مهال بشپړېږي چې علم، هنر، اخلاق او فکر په متوازن ډول وده وکړي. که علم د تمدن عقل وي، هنر یې احساس او ذوق دی. اسلامي تمدن له همدې لید څخه هنر ته وده ورکړه او د خطاطۍ هنر یې د ښکلا تر څنګ د علم او فرهنګ د ساتنې یوه اغېزمنه وسیله هم وګرځوله. زرګونه علمي کتابونه، تاریخي اسناد، فقهي آثار، ادبي شاهکارونه او علمي څېړنې د خطاطانو د قلم له برکته تر نن ورځې سالمې پاتې دي. که د دوی دقت، حوصله او مهارت نه وای، د اسلامي نړۍ د علمي میراث لویه برخه به د وخت په تېرېدو له منځه تللې وه. د لیک دود تاریخ تر اسلام ډېر پخوانی دی؛ خو اسلامي تمدن خطاطۍ ته داسې مقام ورکړ چې په نورو تمدنونو کې یې بېلګه لږ تر سترګو کېږي. د اسلام له خپرېدو وروسته د لیکلو اړتیا پراخه شوه، علمي آثار زیات شول، د دولتونو رسمي اسناد تنظیم شول او د کتابونو د لیکلو بازار تود شو. دا بدلون د دې سبب شو چې لیک یوازې د معلوماتو د ثبت وسیله پاتې نه شي، بلکې د هنري ښکلا بڼه هم خپله کړي. په همدې بهیر کې کوفي، نسخ، ثلث، محقق، ریحان، توقیع، رقاع او وروسته نستعلیق د خطاطۍ مشهور سبکونه وګرځېدل او هر یوه د اسلامي هنر په تاریخ کې ځانګړی مقام خپل کړ. خطاطي په اسلامي نړۍ کې د یوې ځانګړې فلسفې استازیتوب کوي. په ډېرو تمدنونو کې د مجسمو او انځورونو هنر د ښکلا اصلي وسیله ګڼل کېده؛ خو اسلامي تمدن د لیک ښکلا ته ځانګړې وده ورکړه. د همدې لید له امله توري، کلمې او جملې د هنر په ژبه بدلې شوې. دا بدلون د دې سبب شو چې جوماتونه، مدرسې، تاریخي ودانۍ، دروازې، محرابونه، منبرونه، سکې او بېلابېل هنري آثار د خطاطۍ په ښکلا وځلېږي. په دې توګه خطاطي د معمارۍ، هندسې او تزئیني هنرونو له نړۍ سره یوځای شوه او د اسلامي تمدن ځانګړې هنري څېره یې رامنځته کړه. د خطاطۍ د پرمختګ تر شا یوازې هنري ذوق نه و، بلکې علمي اړتیا هم موجوده وه. د اسلامي تمدن د زرینې دورې پر مهال زرګونه کتابونه ولیکل شول. د طب، ریاضیاتو، ستورپوهنې، فلسفې، فقهې، تاریخ، ژبپوهنې او ادبیاتو ستر آثار باید په داسې بڼه ولیکل شي چې هم روښانه وي او هم د اوږدې مودې لپاره خوندي پاتې شي. دلته د خطاطانو مسئولیت پیل شو. هغوی د کاغذ، رنګ، قلم او لیکدود په انتخاب کې داسې مهارت وښود چې ډېری خطي نسخې یې له څو پېړیو وروسته هم د لوستلو وړ پاتې دي. کله چې د بغداد، دمشق، قاهرې، سمرقند، بخارا، هرات او استانبول علمي مرکزونه د نړۍ د پوهې ستر مرکزونه شول، د خطاطۍ هنر هم ورسره خپلې لوړې څوکې ته ورسېد. هر لوی کتابتون سلګونه او زرګونه خطي نسخې درلودې چې د خپل وخت د غوره خطاطانو په لاس لیکل شوې وې. د دغو نسخو ښکلا یوازې په محتوا کې نه وه؛ د لیک د توازن، د پاڼې د تنظیم، د رنګ د انتخاب او د هنري ظرافت له امله هره نسخه د هنر یوه ځانګړې بېلګه هم ګڼل کېده. د اسلامي تمدن نامتو خطاطانو د دې هنر د ودې لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي. ابن مقله د عربي خط د هندسي اصولو بنسټ کېښود او د تورو تناسب یې په علمي ډول تنظیم کړ. ابن البواب دغه اصول نور هم بشپړ کړل او د نسخ او ثلث لیک ته یې نوې ښکلا ور کړه. یاقوت مستعصمي د عباسي دورې له سترو خطاطانو څخه و، چې د هغه لیک د اسلامي نړۍ په ډېرو سیمو کې د معیار په توګه منل کېده. وروسته په ایران، خراسان، هند او عثماني نړۍ کې هم د خطاطۍ بېلابېل مکتبونه رامنځته شول او هر یوه دې هنر ته نوې بڼه ور کړه. هرات د تیموریانو په دوره کې د خطاطۍ، مینیاتور او کتاب جوړونې له مهمو مرکزونو څخه و. د دې ښار هنرمندانو د لیک ښکلا د کتاب د صحافت، تذهیب او جلد جوړونې له هنر سره یوځای کړه او داسې شاهکارونه یې رامنځته کړل چې تر نن ورځې د نړۍ په مشهورو موزیمونو او کتابتونونو کې ساتل کېږي. دا حقیقت د افغانستان د فرهنګي تاریخ لپاره هم د ویاړ ځای دی، ځکه د هرات هنري مکتب د اسلامي تمدن پر هنري بهیر ژور اغېز پرېښود. د خطاطۍ هنر د علم د ساتنې په برخه کې هم بې‌ساری خدمت ترسره کړی دی. د چاپ ماشین تر اختراع وړاندې د نړۍ ټول علمي میراث د خطاطانو د قلم له لارې لېږدول کېده. هر کتاب باید په لاس ولیکل شي، هره نسخه باید په دقت نقل شي او هره پاڼه باید له تېروتنې پرته ترتیب شي. دا کار کلونه وخت غوښت؛ خو همدغه زحمت د دې سبب شو چې د زرګونو عالمانو آثار تر نن ورځې راورسېږي. که خطاطان نه وای، د اسلامي تمدن د علمي پانګې ډېره برخه به د تاریخ په اوږدو کې ورکه شوې وای. د چاپ ماشین له رامنځته کېدو وروسته د خطاطۍ عملي اړتیا کمه شوه؛ خو هنري ارزښت یې کم نه شو. نن هم د اسلامي نړۍ په ګڼو هېوادونو کې خطاطي د هنري هویت مهمه برخه ګڼل کېږي. د تاریخي جوماتونو ترمیم، د فرهنګي اثارو ساتنه، د هنري ندارتونونو جوړول او د خطاطۍ سیالۍ دا څرګندوي چې دا هنر لا هم ژوندی دی او د اسلامي تمدن د فرهنګي هویت استازیتوب کوي. په معاصره نړۍ کې د ډیجیټلي ټکنالوژۍ پراختیا د خطاطۍ پر وړاندې نوې ننګونې او فرصتونه دواړه رامنځته کړي دي. کمپیوټري فونټونه د ورځنیو لیکنو اړتیا پوره کوي، خو د انساني قلم روحیه، د لاس حرکت، د رنګ ژوندي والی او د هنري تخلیق ښکلا لا هم د ماشین له خوا نه شي بدلولای. له همدې امله د نړۍ ګڼ هنري مرکزونه د دودیزې خطاطۍ د ساتنې او روزنې لپاره ځانګړې پروګرامونه لري، څو دا لرغونی هنر راتلونکو نسلونو ته هم انتقال شي. د خطاطۍ اقتصادي ارزښت هم د پام وړ دی. د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د خطاطۍ ندارتونونه، هنري بازارونه، د تاریخي نسخو ترمیم، فرهنګي سیاحت او د هنري اثارو پلور د عاید مهمې سرچینې ګڼل کېږي. هغه هېوادونه چې خپل هنري میراث په علمي ډول ساتي او معرفي کوي، د فرهنګي اقتصاد له لارې هم د پام وړ ګټه ترلاسه کوي. افغانستان د خطاطۍ د لرغوني میراث له پلوه بډایه سابقه لري. د هرات، بلخ، غزني او کابل په علمي او فرهنګي مرکزونو کې د بېلابېلو دورو ګڼې خطي نسخې لیکل شوې دي. د دې نسخو ساتنه، ترمیم، ډیجیټلي ثبت او علمي معرفي کول د هېواد د فرهنګي هویت د پیاوړتیا لپاره مهم ګامونه دي. که دا میراث په سمه توګه خوندي او نړیوالو ته وروپېژندل شي، د افغانستان د علمي او فرهنګي تاریخ ارزښت به لا روښانه شي. د خطاطۍ هنر موږ ته دا درس راکوي چې تمدنونه یوازې په ځواک، شتمنۍ او ودانیو نه پاتې کېږي؛ د هغوی فکري او هنري میراث هم د هغوی د بقا مهم عامل دی. یو ښکلی لیک د خپل وخت د ذوق، نظم، دقت او فرهنګي کچې استازیتوب کوي. کله چې یو ملت خپل هنري میراث وساتي، په حقیقت کې خپل تاریخي شخصیت، خپل فکري هویت او خپل تمدني وقار هم ساتي. خطاطي د اسلامي تمدن د فرهنګي هویت له روښانه نښو څخه ده. دا هنر د علم د ساتنې، د کتاب د ښکلا، د معمارۍ د تزئین، د هنري ذوق د ودې او د تمدني شخصیت د څرګندولو لپاره څو پېړۍ نه ستړې کېدونکې خدمت کړی دی. هره تاریخي خطي نسخه، هر کتیبه، هر هنري لیک او هر ښکلی قلم د دې حقیقت شاهد دی چې د اسلامي تمدن ښکلا د فکر، علم او هنر په ګډ سفر کې رامنځته شوې ده. همدا سفر د خطاطۍ هنر د اسلامي تمدن په فرهنګي حافظه کې تلپاتې او درونډ ځای ورکړی دی.

د بهرنیو چارو . . .

پلاوي استازوویلي، چې د افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ فرصتونو ته د روسي سوداګرو او پانګوالو لېوالتیا ورځ تر بلې زیاتېږي. د هغوی په وینا، له سلو څخه ډېر روسي سوداګر او پانګوال چمتو دي افغانستان ته سفر وکړي، له افغان سوداګرو سره وګوري او د سوداګرۍ، پانګونې او ګډو اقتصادي همکاریو د پراختیا په اړه عملي خبرې ترسره کړي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسؤلین باور لري، چې د دغو ډول سوداګریزو اړیکو پراختیا به د افغانستان او روسیې ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا، د پانګونې د جلب، د صادراتو د زیاتوالي او د نویو بازارونو د رامنځته کېدو لپاره مهم فرصتونه برابر کړي.

د افغانستان او تاجیکستان . . .

لپاره اغېزمن ګام ثابت شي.

ذاکر جلالي ویلي: «په کابل کې د تاجیکستان فعال ډیپلوماتیک حضور او په دوشنبې کې د افغانستان ډیپلوماتیک حضور یو مهمه اړتیا ده. هیله لرو، چې د دواړو لورو وروستي تعاملات په نږدې راتلونکي کې د دوه اړخیزو اړیکو د لا پرمختګ، د همکاریو د پراختیا او د ګډو موضوعاتو د هواري لامل شي.» ده زیاته کړې، چې افغانستان او تاجیکستان د ګډ تاریخ، فرهنګ، ژبې، دین او ټولنیزو ارزښتونو له مخې نږدې اړیکې لري او همدا ګډ مشترکات د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا لپاره پیاوړی بنسټ جوړوي. د نوموړي په وینا، د سوداګرۍ، ټرانزېټ او اقتصادي همکاریو بهیر په وروستیو کلونو کې هم دوام کړی او د دواړو هېوادونو د متقابلو ګټو لپاره یې مثبتې پایلې لرلې دي. بل لور ته، د نړیوالو چارو یو شمېر شنونکي هم باور لري، چې د افغانستان او تاجیکستان ترمنځ ډیپلوماتیکو اړیکو لا پیاوړتیا به د سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او ټرانزېټي همکاریو د پراختیا تر څنګ د سیمې د ثبات، متقابل باور او ګډ پرمختګ لپاره هم مهمه زمینه برابره کړي. د نړیوالو اړیکو شنونکي سیدبلال فاطمي ویلي، چې د افغانستان او تاجیکستان د اړیکو پراختیا د دواړو هېوادونو او د منځنۍ آسیا د سیمې په ګټه ده او کولی شي د امنیت، اقتصادي ودې او سیمه‌ییزو همکاریو د پیاوړتیا لپاره اغېزمن رول ولوبوي.

شنونکي ټینګار کوي، چې د کابل او دوشنبې ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو پراختیا او د متقابلو استازولیو فعال حضور به د دواړو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د باور فضا نوره هم پیاوړې او په بېلا بېلو برخو کې به د دوامدارو همکاریو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي.

له افغانستان سره . . .

ستونزو سره مخ دی او حکومت باید د بهرنیو ترینګلتیاوو د زیاتولو پر ځای د کورنیو بحرانونو حل ته پام وکړي.

په پاکستان کې د افغانستان پخواني ډیپلومات، امیر محمد کران، په دې اړه وویل: «په پاکستان کې د مدني ټولنې ډېرو فعالانو، سیاسي څېرو او مذهبي مشرانو، د مولانا فضل الرحمان په ګډون، د دغه هېواد پر سیاستونو، په ځانګړې توګه پر افغانستان د پاکستان پر بریدونو، نیوکې کړې دي.»

دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي، چې مرستندویه بنسټونو هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د جګړو د زیاتېدو له پایلو اندېښنه ښودلې ده.

د افغانستان او ترکیې . . .

او ترکیې ترمنځ د تاریخي، فرهنګي، مذهبي او سیاسي اړیکو ستاینه وکړه. نوموړي د ترکیې له دولت، سفارت او په ځانګړي ډول د ټیکا (T KA) مؤسسې څخه د افغانستان په فرهنګي او تعلیمي برخو کې د ترسره شویو همکاریو مننه وکړه او ویې ویل: چې د عامه کتابتون د مطالعې تالار جوړول، د ملي آرشیف د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو ترسره کول، د ځوانانو د لیلیې بیارغونه او په بلخ کې د مولانا د پلار بهاءالدین ولد د خانقاه جوړول د دواړو هېوادونو د ښو همکاریو څرګندې بېلګې دي.

د ګرځندوی، مالي او اداري چارو معین زیاته کړه؛ چې افغانستان د تاریخي، فرهنګي او مذهبي ګرځندوی له پلوه پراخ ظرفیتونه لري او هیله یې څرګنده کړه، چې د ترکي شارژدافیر د مأموریت په مهال به د ګرځندوی، فرهنګي میراثونو د ساتنې او د دواړو هېوادونو د ولسونو ترمنځ اړیکې لا پیاوړې شي.

د ترکیې شارژدافیر د خپلو خبرو په مهال وویل: د افغانستان او ترکیې ترمنځ ګډ تاریخي، فرهنګي، ټولنیز او مذهبي ارزښتونه د دواړو ملتونو د نږدېوالي بنسټ جوړوي او فرهنګ یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو تر ټولو مهم پل وباله. هغه د ترکیې د ګرځندوی صنعت د خپل هېواد له چټک پرمختګ کوونکو اقتصادي سکټورونو څخه یاد کړ او ټینګار یې وکړ، چې هېواد یې چمتو دی د ګرځندوی، هوټلدارۍ، سیاحتي خدمتونو او د بشري ظرفیت لوړونې په برخو کې خپلې تجربې له افغانستان سره شریکې کړي. نوموړي ډاډ ورکړ، چې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د کارکوونکو د مسلکي ظرفیت د لوړولو لپاره به له اړوندو ترکي ادارو سره همغږي وکړي.

په غونډه کې دواړو لورو د افغانستان او ترکیې ترمنځ د ګرځندوی د اړیکو د پراختیا لپاره د ګډو همکاریو پر مهمو لارو چارو هم بحث وکړ. په دې لړ کې د ګرځندوی په برخه کې د تفاهم‌لیک د لاسلیک، د تاریخي، فرهنګي او مذهبي ګرځندوی د ودې، د دواړو هېوادونو د سیاحتي جاذبو د معرفي کولو، د سیلانیانو د تګ راتګ د اسانتیاوو، د روزنیزو پروګرامونو، د خصوصي سکټور او ګرځندوی شرکتونو ترمنځ د همکاریو، په نړیوالو ندارتونونو کې د ګډون او د ګډې تخنیکي کاري ډلې د جوړېدو په اړه نظرونه تبادله شول. ښاغلي آیبلدیز څرګنده کړه، چې د ترکیې جمهوریت د ویزو د رسمي خدمتونو یوازینۍ باوري سرچینه په افغانستان کې د صفا خدماتي شرکت دی او افغان وګړي کولای شي، د همدې شرکت له لارې د ترکیې ویزې لپاره نوم‌لیکنه وکړي. دواړو لورو په پای کې ټینګار وکړ، چې د ګرځندوی په برخه کې د همکاریو پراختیا نه یوازې د دواړو هېوادونو اقتصادي ودې ته زمینه برابروي، بلکې د فرهنګي تبادلو، ولسي اړیکو، د تاریخي میراثونو د معرفي کولو او د سیمې د دوامدارو همکاریو په پیاوړتیا کې به هم مهم رول ولوبوي.

د لغمان موزیم . . .

راتلونکي نه یوازې د هېواد د فرهنګي میراثونو د ساتنې لامل کېږي، بلکې د علمي څېړنو، فرهنګي پوهاوي او ګرځندوی د ودې لپاره هم اغېزمن رول لري او د افغانستان د غني تاریخ او لرغوني تمدن په معرفي کولو کې مهمه ونډه اداکوي.

د کتاب ارزوني . . .

په ناسته کې همدا رنګه د ۴۹ بېلابېلو عنوانونو درلودونکي ۵۲۷ ټوکه صادر او وارد شوي کتابونه ارزول شوي او ۱۰ ټوکه راجع شوي کتابونه د کمېسیون غړیو ته سپارل شوي، چې په راتلونکې ناسته کې یې راپور وړاندې کړي. د ناستې په پای کې، د سعادت انتشاراتو اړوند د وارد شویو قرآن کریمونو په اړه هم پرېکړه شوې ده.

اسلامي امارت . . .

وبلل او ویې ویل: د هېواد د تېرو څو لسیزو جګړو له امله روغتیایي سکټور له ګڼو ننګونو سره مخ شوی، نو ځکه اړینه ده چې د دغه سکټور کارکوونکي خپلې مسلکي وړتیاوې لوړې او ځانونه په اړینو مهارتونو سمبال کړي. دغه‌راز نوموړي له ډاکټرانو او روغتیایي پرسونل وغوښتل، چې له ناروغانو او د هغوی له پایوازانو سره ښه چلند وکړي او د دقیق تشخیص له لارې د هغوی درملنه یقیني کړي. مولوي عبدالسلام حنفي په پای کې د اسلامي امارت له لوري له روغتیا سکټور د ملاتړ او پیاوړتیا ډاډ ورکړ او وې ویل، د اسلامي امارت مسؤلین به په دې برخه کې خپلې هڅې دریغ نه کړي.

په افغانستان کې . . .

موخو لپاره په شیطانت سره تحریفوي.

ښاغلي الحنفي د خپلو خبرو په دوام نړیوالو ته په خطاب کې وویل: «په افغانستان کې د اسلام له اصولو سره موافق د بشر حقوق تأمین دي زره سواند جهتونه دې له هغو محکومو ولسونو سره د بشریت د حقوقو رښتینې خواخوږي وکړي، چې د وخت جابرانو یې ټول انساني حقوق پایمال کړي او حتی د ژوند کولو حق نه ورکوي.»

په څلورو ولایتونو . . .

سرچینې لیکلي، د راستنو شوو کډوالو لپاره د څمکو د نمرو وېش د هغوی د دایمي استوګنې او سرپناه برابرولو په موخه ترسره کېږي.

د کور او ښار جوړولو وزارت د معلوماتو له مخې، تر دې مهاله په ټول هېواد کې ۵۹ زره او ۱۳۳ کورنیو ته د ځمکې نمرې وېشل شوې او دا لړۍ په چټکۍ سره روانه ده.

د فرهنګ او هنر . . .

ښار په بېلابېلو سیمو او یو شمېر ولایتونو کې د هنري اثارو ندارتونونه جوړ شي.

ده له استادانو، خطاطانو، میناتورانو او نقاشانو څخه غوښتي، چې د زمري په ۲۴ مه د فرهنګي پروګرامونو د لا ښه ترسره کېدا لپاره خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړي او له قومي، ژبني او سمتي تعصبونو څخه ډډه وکړي؛ ځکه د اسلام په سپېڅلي دین کې تعصب هېڅ ځای نلري.

دغه‌راز د هنرستان رئیس مولوي محمد لعل منیب ویلي، چې اسلامي امارت، په ځانګړې توګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د هنر د ودې او پیاوړتیا ملاتړ کوي. ده زیاته کړې، چې د فتحې ورځې نمانځل، د هېواد د ټولو خلکو ګډ مسؤلیت دی او هنرمندان، په ځانګړې توګه خطاطان، نقاشان او میناتوران هم باید په دې برخه کې خپل رول په غوره توګه ترسره کړي. د کتنې په پای کې، یو شمېر خطاطانو، نقاشانو، میناتورانو او هنرمندانو خپل وړاندیزونه او مشورې شریکې کړې او ډاډ یې ورکړی، چې د فتحې ورځې اړوند پروګرامونو د لا شانداره ترسره کېدا لپاره به پوره همکاري وکړي.

افغاني بانکنوټونه . . .

د ښې ساتنې په برخه کې مسئول یو او باید جدي پاملرنه ورته وکړو.

په دې اړه د افغانستان بانک ویاند' حسیب الله نوري' د هېواد ورځپاڼې خبریال ته د مرکې له مخې ویلي دي: «افغاني بانکنوټونه د لوړ کیفیت لرونکو چاپي موادو او ځانګړې بانکنوټي کاغذ څخه جوړېږي چې د ورځني استعمال پر وړاندې ښه مقاومت لري. د بانکنوټونو په تولید کې داسې کاغذ کارول کېږي چې د عادي کاغذ په پرتله ډېر دوامداره وي او د تاوېدو، زړېدو او پرله‌پسې کارونې پر وړاندې ښه کیفیت ساتي.»

د نوري په وینا: «د افغانیو د چاپ بهیر د نړیوالو معیارونو له مخې ترسره کېږي، چې د رنګونو کیفیت، د چاپ وضاحت او د بانکنوټونو فزیکي استحکام تضمینوي. د همدې لوړ کیفیت لرونکو موادو او چاپي معیارونو له امله افغاني بانکنوټونه نسبتاً اوږد عمر لري او د بازار د اړتیاوو لپاره مناسب ګڼل کېږي.» د ده په خبره: «دا چې د هېوادوالو له لوري افغانۍ په ساتنه کې کمې راځي، تېر کال په ترڅ کې د افغانستان بانک له لوري څه باندې ۲.۵ میلیارد افغانۍ په ارزښت مندرس او له کاره لویدلي بانکنوټونه له بازار څخه راټول او د ټاکل شویو اصولو له مخې له منځه وړل (سوځول) شوي دي. همداشان د راټولو شوو مندرس بانکنوټونو پر ځای د اړتیا له مخې نوي بانکنوټونه بازار ته وړاندې شوي دي، تر څو په بازار کې د نغدو پیسو دوران عادي او متوازن پاتې شي. د نوو بانکنوټونو وړاندې کول د پیسو د عرضې، پولي سیاستونو او اقتصادي اړتیاوو له مخې تنظیمېږي.» د نوري له قوله چې د بانکنوټونو د زړېدو لاملونه، د پیسو دوامداره او زیات استعمال، د اوبو، رطوبت او دوړو سره تماس، پر بانکنوټونو لیکل او رنګونه وهل، په لمدو، ککړو او غوړو لاسونو د بانکنوټونو نیول، د سوداګریزو راکړو ورکړو پر مهال بې احتیاطي.

همدارنګه د بانکنوټونو د زړښت د مخنیوي لپاره باید په مناسب ډول وساتل شي، لیکل، مهر وهل او نښې ایښودل باید ونه شي، له اوبو او رطوبت څخه خوندي وساتل شي، تاوول، په لمدو، ککړو او غوړو لاسونو و نه کارول شي او د عامه پوهاوي له لارې خلک د ملي اسعارو د ساتنې اهمیت ته وهڅول شي. په ورته مهال د کابل اوسېدونکی، جاوید ارمان' وایي: «افغانۍ د ټولو هېوادوالو پیسې دي چې د ساتلو دنده یې د ټولو ګډ مسئولیت دی. له بده مرغه چې هېوادوال مو د خپلو پیسو په ساتلو کې بې غورې کوي او بیا د نورو هېوادونو پیسو په ساتلو کې جدي پاملرنه کوي، نو باید لومړی خپلې پیسې د زړښت څخه وساتو د غوره لارو چارو څخه یې په ساتنې کې ګټه پورته کړو.» یو بل تن هېوادوال' نیازالله' وایي: «دا چې افغانۍ د نورو اسعارو پر وړاندې ثباتې پاتې شوي، همدا ډول یې د زړښت څخه هم ساتل په کار دی. زه خپله د پیسو د ژر مندرس کېدلو د مخنیوي لپاره جېبي بټوه ګرځوم چې غوره لاره ده او د نورو هېوادوالو څخه هم غواړم چې د پیسو د ساتلو په برخه کې جدي پاملرنه وکړي.» **زیارمل هوتک**

ننګرهار کې . . .

کې پانګوالو او صنعتکارانو ته د پانګونې په برخه کې د هر ډول اسانتیاوو د برابرولو ډاډ ورکوي.

د ننګرهار د صنعت او سوداګرۍ رئیس، عبدالبصیر پاچا وایي: «ټولو صنعتکارانو او سوداګرو ته ډاډ ورکوو، دغه ندارتونونه د بازار موندنې په برخه کې یوه ښه لاسته راوړنه ده. په دې ندارتونونو کې قراردادونه کېږي، توکي خلکو ته وروپېژندل کېږي او کار ترې اخیستل کېږي.» په دې وروستیو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کورنیو تولیداتو او محصولاتو ګڼ ندارتونونه جوړ شوي، چې د صنعتکارانو او تولیدوونکو په خبره، د بازار موندنې او د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په برخه کې یې مثبتې پایلې لرلې دي.

هرات کې د یوې . . .

یوځای کار کوو. هیله لرو، چې په همدې ځای کې لا ډېر پرمختګ وکړو.» د دې کارخونې ډېری کارکوونکې د خپلو کورنیو د لګښتونو مسؤلیت پر غاړه لري. دوی وایي، خوښې دي چې دې کارخونه کې ورته د کار زمینه برابره شوې ده. حمیده عمري په هرات کې له هغو سلګونو مېرمنو ده، چې په وروستیو کلونو کې یې سوداګریزو فعالیتونو ته مخه کړې ده. د هرات د ښځو د سوداګرۍ او صنایعو خونې د شمېرو له مخې، په تېرو درېیو کلونو کې له زرو ډېرو ښځو او نجونو سوداګریزو فعالیتونو ته مخه کړې، چې زرګونه نورو ښځو او نجونو ته یې هم د کار زمینه برابره کړې ده.

افغان اعلانات

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست معارف شهر کابل به حفر چاه عمیق، ترمیم مبرزها، چاهای سپتیک، ترمیم تعمیرات تدریسی، ایزوگام و رنگمالی مکاتب (لیسه استقلال، متوسطه سید جمال الدین افغان، لیسه ملکه ثریا، لیسه استاد بیتاب، لیسه هود خیل نمبر دوم، لیسه بی بی هوا ، لیسه آزادی) مربوط حوزه های (اول، سوم، چهارم، هشتم،نهم ، یازدهم وهفدهم) مطابق نقشه و برآورد مدیریت عمومی حفظ و مراقبت تاسیسات و املاک این ریاست ضرورت دارد، آنعده از شرکت های ساختمانی که خواهش قرار داد آنرا داشته باشند می توانند درخواست های خویش را بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به مدیریت تدارکات ریاست معارف شهر کابل واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند. ۳۵۱۰

د ملي پرانیستي داوطلبی بلنه

د پروژي نوم : د کمپیوترونو،پرنټرونو، پرنټر رنګونو، سرور او ای ټي وسایلو برابرول.

دداوطلبۍ شمیره :

NExA/1405/NCB/G-1127

د ازموینو عمومي اداره په شرایطو برابرو ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د دې ادارې د کمپیوټرونو،پرنټرونو، پرنټر رنګونو، سرور او ای ټي وسایلو د تدارک کولو د داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي، داوطلبان کولای شي د شرطنامې کاپي په وړیا توګه په فلش ډیسک (حافظه) کې د ازموینو عمومي ادارې د تدارکاتو له عمومي مدیریت څخه، چې د کابل ښار د څلورمې ناحیې، د یفتلي کوڅې، د سټي سنټر شاته، د پخواني کورنیو چارو وزارت د سړک په غاړه موقعیت لري، او د افغانستان د بریښنایي او پرانیستو تدارکاتو سیستم څخه ترلاسه کړي داوطلبان باید خپل آفرونه د شرطنامې د شرایطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره سم، په مهر او سربسته ډول، د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو د ۱۴۰۵/۰۵/۰۷ نېټې پورې د ازموینو عمومي ادارې دریم پوړ، د تدارکاتو عمومي مدیریت ته وسپاري له ټاکلي وخت څخه په ځنډ رسېدلي او یا د انټرنېټ له لارې استول شوي آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفرونو د پرانیستلو غونډه به د ۱۴۰۵/۰۵/۰۷ نېټه، د چهار شنبي په ورځ، د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د تدارکاتو عمومي مدیریت په شعبه کې ترسره شي.

همدارنګه ټول داوطلبان مکلف دي چې د آفر د تضمین پر ځای، د آفر د تضمین اظهار نامې فورمه د شرطپاڼې د نورو اړوندو فورمو ترڅنګ په بشپړه توګه ډکه، لاسلیک او مهر(ټاپه) کړي او دخپل آفر سره یې وړاندې کړي.

اطلاع عقد قرارداد

موضوع: اطلاع عقد قرارداد پروژه قرطاسیه باب و مواد تنظیفاتی ضرورت شفاخانه تدریسی میوند، بابت سال مالی ۱۴۰۵.

به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود که ریاست شفاخانه تدریسی میوند در نظر دارد تا پروژه قرطاسیه باب و مواد تنظیفاتی ضرورت شفاخانه تدریسی میوند، بابت سال مالی ۱۴۰۵ را با شرکت آریا استیشنری لمتد جواز نمبر (۷۰۵۲-۰۱۰۱) ، آدرس: شهرنو، چهاراهی صدارت، مرکز کابل، کابل به قیمت مجموعی مبلغ (۷۴۹،۷۳۴) هفت صد و چهل و نه هزار و هفت صد و سی و چهار افغانی عقد قرار داد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشراعلان الی پنج روز تقویمی طورکتبی توام با دلایل آن به ریاست محترم شفاخانه تدریسی میوند واقع سینما پامیر، جاده میوند ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

د داوطلبیو خبرتیا

د استخباراتو عمومي ریاست له ټولو واجد داوطلبانو څخه غوښتنه کوي ترڅو په (پروژه تهیه و نصب یکپایه ریګلاتور نوع دلتا ترکی به ظرفیت ۱۰۰۰kva-۳phase معه مواد و اجناس مورد ضرورت ریاست خدمات صحی استخبارات بابت سال مالی ۱۴۰۵) چې د تشخصیه شمیره یې: GDI/1405/W-31/NCB ده ګډون وکړئ. او د شرطپاڼې سافټ په فلش یا سي ډي ډیسک کې په وړیا توګه د استخباراتو د تدارکاتو څانګې څخه چې پته یې ده ملالی واټ، ملالی زیژنتون ترڅنګ شهر آرا کابل- افغانستان څخه ترلاسه کړئ.

له ګډونوالو څخه هیله کیږي چې د تدارکاتو قانون او کړنلارې له مخې خپل افرونه په ترل شوې بڼه چې تاریخ او توانایي په آفر کې ذکر شوي دي تسلیم کړئ، او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ ندي.

د داوطلبیو خبرتیا

د استخباراتو عمومي ریاست له ټولو واجد داوطلبانو څخه غوښتنه کوي ترڅو په (تهیه و تدارک ۶۰۰۰۰۰ کیلو ګاز مایع مورد ضرورت ادارات و قطعات مرکز ی استخبارات بابت سال مالی ۱۴۰۵) چې د تشخصیه شمیره یې: GDI/1405/G-04/NCB ده ګډون وکړئ. او د شرطپاڼې سافټ په فلش یا سي ډي ډیسک کې په وړیا توګه د استخباراتو د تدارکاتو څانګې څخه چې پته یې ده ملالی واټ، ملالی زیژنتون ترڅنګ شهر آرا کابل- افغانستان څخه ترلاسه کړئ.له ګډونوالو څخه هیله کیږي چې د تدارکاتو قانون او کړنلارې له مخې خپل افرونه په ترل شوې بڼه چې تاریخ او توانایي په آفر کې ذکر شوي دي تسلیم کړئ، او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ ندي.

اعلان داوطلبی

« شماره داوطلبی:

TVET/1405/NCB/W-1465

اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه ترمیمات مراکز آموزشی شهر کابل برای سال مالی ۱۴۰۵ اشتراک نموده و نقل مهر شده شرطنامه مربوطه را از سایت ریاست تدارکات ملی و یا در حافظه و یا فلش دسک از آمریت تدارکات این اداره بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و قانون عقود طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، روز یک شنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۰۴ به بلاک سوم، منزل اول، آمریت تدارکات واقع کارته چهار جوار وزارت تحصیلات عالی ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

جلسه آفرگشایی آن ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، روز یکشنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۰۴ به بلاک پنجم، منزل اول، تالار جلسات معاونیت امور مالی و اداری تدویر می گردد.»

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

شماره داوطلبی:

(MOMP-G-09-NCB-1405)

بدینوسیله به اطلاع عموم رسانیده می شود، وزارت معادن و پترولیم در نظر دارد، قرارداد تهیه، انتقال و نصب ۷ قلم اجناس دفتر و فرنیچر تحت شماره داوطلبی (MOMP-G-09-NCB-1405)

به اساس قرارداد به شرکت تجارتی آصف درویش لمیتد به قیمت مجموعی (۱,۰۴۷,۵۰۰) یک میلیون چهل و هفت هزارو پنجصد افغانی اعطاء مینماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۵ روز کاری در مطابقت به متحد المال شماره AOP / NPD/ PPD /C34 /1405اداره تدارکات ملی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

شماره داوطلبی:

(MOMP-G-03-NCB-1405)

بدینوسیله به اطلاع عموم رسانیده می شود، وزارت معادن و پترولیم در نظر دارد، قرارداد تهیه، انتقال و نصب ۱۶ قلم تجهیزات تکنالوژی معلوماتی ضرورت وزارت تحت شماره داوطلبی MOMP-G-۰۳-NCB-۱۴۰۵ به اساس قرارداد به شرکت خدمات تکنالوژی نیبولا انوویتیو به قیمت مجموعی (۱۱,۴۹۵,۹۰۰) یازده میلیون چهارصدو نود پنج هزارو نوصد افغانی اعطاء مینماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۵ روز کاری در مطابقت به متحد المال شماره AOP/ ۱۴۰۵/NPD/PPD/C۳۴ اداره تدارکات ملی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم ارائه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اعلان داوطلبی

شماره داوطلبی:

TVET/1405/NCB/NC-1877

ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تدارک تدارک کرایه گیری (۱۶) عراده وسایط نقلیه مختلف النوع جهت حمل و نقل محصلین و متعلمین انستیتوت مسلکی ناشنوایان برای سال تعلیمی ۱۴۰۵. اشتراک نموده و نقل مهر شده شرطنامه مربوط را در حافظه یا فلش دیسک از آمریت تدارکات اداره تعلیمات تخنیکی ومسلکی و سایت ریاست تدارکات ملی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، روز سه شنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۰۶ به بلاک سوم، منزل اول ، آمریت تدارکات، اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی، واقع کارته چهار ارایه نمایند آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

همچنان جلسه آفرگشایی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، روز سه شنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۰۶، منزل اول، تالار جلسات معاونیت امور مالی و اداری تدویر می گردد.»

اعلان داوطلبی

موضوع (اعلان داوطلبی (۱۲) باب دواخانه‌های شرکت امارتی فارمسی ابن سینا که در موقعیت های مختلف کشور قرار دارند)

«شرکت امارتی فارمسی ابن سینا به تعداد (۱۲) باب دواخانه‌های ذیل خویش را که در موقعیت‌های مختلف کشور قرار دارند.

۱-دواخانه امارتی شماره (۱) لوگر، واقع شفاخانه ولسوالی برکی برک؛

۲-دواخانه امارتی شماره (۱) لغمان، واقع شفاخانه ولایتی؛

۳-دواخانه امارتی شماره (۱) پروان، واقع جوار شفاخانه ولایتی؛

٤-دواخانه امارتی شماره (۱) غور، واقع شفاخانه ولایتی؛

٥-دواخانه امارتی شماره (۳۲) مرکز، واقع ناحیه ۱۷، سر کوتل؛

٦-دواخانه امارتی شماره (۳۷) مرکز، واقع ولسوالی قره باغ؛

۷-دواخانه امارتی شماره (۲) بامیان، واقع شفاخانه ولایتی؛

۸-دواخانه امارتی شماره (۱) بلخ، واقع مقابل شفاخانه بلخ؛

۹-دواخانه امارتی شماره (۳) بلخ، واقع کارته صلح؛

۱۰-دواخانه امارتی شماره (۵) بلخ، واقع کج گذر، سجادیه،

۱۱-دواخانه امارتی شماره (٦) بلخ، واقع ولسوالی بلخ؛

۱۲-دواخانه امارتی شماره (۷) بلخ، واقع بازار شرشره.

میخواهد در روشنی قوانین نافذه کشور طور آفر سربسته به اجاره بسپارد.

بناً از تمام اشخاص و افراد حقیقی، حکمی و شرکت‌های سهامی که خواهش اجاره گرفتن دواخانه‌های امارتی را داشته باشند، تقاضا میگردد تا شرطنامه متذکره را از آمریت فروشات ریاست تجارتی شرکت امارتی فارمسی ابن سینا در بدل ۳۰۰۰ افغانی پول غیرقابل بازگشت دریافت نموده، جلسه آفرگشایی دواخانه‌ها (۱۰) یوم بعد از نشر اخبار بروز (معینه) ساعت ۹:۰۰ بجه قبل از ظهر در مقر شرکت امارتی فارمسی ابن سینا برگذار میگردد. تضمین طبق مقررات و موادات شرطنامه اخذ میگردد.

قابل ذکر است که بعضی شعبات ولایت بلخ در مکان های خصوصی فعالیت دارند که در داوطلبی هذا صرف امتیاز آن به اجاره داده خواهد شد.

نوت: (پول نشر اعلان از نزد محمد مصطفی معتمد نقدی شرکت امارتی فارمسی ابن سینا اخذ گردد.) ۳۵۸۱

اطلاعیه به اجاره دهی جایداد

مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.

بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترمی که دارای تجربه مرتبط در امورتجارتی می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱۰ روز از تاریخ نشر این اعلان، درخواست های خویش را به ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.

موضوع عبارت است از :

موازی (۳۰) سی جریب زمین امارتی واقع انتفات ولسوالی شکردره دارای کوردینات نمبر (Y; ۳٤/۷۰۱۷۵۱٤ X:۶۹/۱۶۹۴۴۱۸ به منظور فعالیت (زراعتی و تجارتی) که سالانه فی جریب به مبلغ (۲۱۰۰) دو هزار یک صد افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی،به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود. ۳۵۵۲

اطلاعیه به اجاره دهی جایداد

مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.

بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترمی که دارای تجربه مرتبط در امور ریک ریشن می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱۰ روز از تاریخ نشر این اعلان، درخواست های خویش را به ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.

موضوع عبارت است از :

موازی (۱۰) ده جریب زمین امارتی واقع کوه قلعه قاضی ولسوالی چهارآسیاب دارای کوردینات نمبر (Y; ۳۸۱۲۹۷۷ X:۵۰۵۲۰۳ به منظور فعالیت (ریک ریشن) که سالانه فی جریب به مبلغ (۷۶۷۰) هفت هزار و شش صدو هفتاد افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی،به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود. ۳۵۵۱

اطلاعیه به اجاره دهی جایداد

مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.

بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترمی که دارای تجربه مرتبط در امور زراعتی می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱۰ روز از تاریخ نشر این اعلان، درخواست های خویش را به ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.

موضوع عبارت است از :

موازی (۷) هفت جریب زمین امارتی واقع انتفات ولسوالی شکردره دارای کوردینات نمبر (Y;۳۸۳۶۸۱۰ X:۵۱۳٤۱۵ به منظور فعالیت (زراعتی) که سالانه فی جریب به مبلغ (۲۱۰۰) دو هزار و یک صد افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی،به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود. ۳۵۵۰

اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اسامی محترم تیمورشاه فرزند قربان علی ولدیت احمد علی دارنده جواز نمبر (۴۴۷۷) مورخ ۱۴۰۴/۶/۱۱ متصدی رهنمای معاملات (بی همتا) واقع (مقابل مکتب عبدالرحیم شهید) ناحیه (۱۳) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش می باشد.

که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند. ۳۵۱۳

اطلاعیه

اسامی محترم سید مقدر فرزند سید محمد نبی مالک (کلینیک سراپا طوبا) که قبلا ذریعه مکتوب شماره ۵۰۴۷۷۳ مورخ ۱۳۹۹/۱۲/۱۰ رسما از طریق این ریاست در مربوطات ناحیه سیزدهم ۱۳ شهر کابل افتتاح گردیده ، اکنون طی درخواستی جداگانه به این ریاست خواهان انتقال از ناحیه سیزدهم به مربوطات ناحیه پنجم شهر کابل و تغیر نام کلینیک سراپا خویش به محمد شفیق احمدزی گردیده که ریاست محترم احکام لازم ارشاد فرموده اند.اشخاص ، موسسات و دوایر امارتی که در مورد التراسوند فوق الذکر ادعا داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به ریاست تنظیم و هماهنگی سکتور خصوصی وزارت صحت عامه مراجعه نموده در غیر آن ادعای شان باطل می باشد. ۳۵۴۳

اطلاعیه تقرری

قرار است محترم عبدالرحمن فرزند شاه محمد دارنده تذکره شماره (۶۲۲۹۴-۰۵۰۲- ۱۴۰۳) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسوولیت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت. ۳۵۳۷

اطلاعیه مفقودی

دو نقل سته فروش دارنده سریال نمبر (۱۱۷۹۴۵) از رهنمای معاملات فدایی به اسم محترم قاری الله محمد فرزند فدا محمد دارنده جواز نمبر ۵۲۲۳ واقع سرک داود خان و چهار راهی محبس ناحیه ۱۲ شهر کابل مفقود گردیده است. بناء سته دفتر متذکره از اعتبار ساقط می باشد. ۳۵۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم حکم الله فرزند حفیظ الله مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۲۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه دوم به اسم محمد سمیع فرزند خدا داد مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۱۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۱۳ به اسم سید زلمی فرزند سید طاوس مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۱۱

اطلاعیه مفقودی

تشبث شرکت تجارتی کابل ترانس آسیا لمتید دارنده جواز نمبر ۳۴۸۲۶ به ریاست محترم خواجه منیر احمد فرزند خواجه آقا محمد طی یک قطعه عریضه خواهان مفقودی مهر و لوحه شرکت خویش گردیده است.بناء از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون مهر شرکت متذکره از اعتبار ساقط می باشد. ۳۵۱۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۱۳ برچی به اسم محمد تقی فرزند محمد نادر مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه سند ملکیت زمین واقع ناحیه ۲۲ شرکت ساختمانی معمار شهر پروژه سید جمال الدین افغان نمبر زمین ۷۸۰ به اسم امان الله خوگیانی فرزند فضل الرحیم مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۲۵

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی کارگاه خیاطی واقع ناحیه سوم به اسم رفیع الله فرزند هاشم مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۲۶

Hewad Daily

د هوا حالات: ۰۴:۴۰ — کابل ۳۳°C — هرات ۳۷°C — مزار شریف ۴۲°C — کندهار ۴۱°C — هلمند ۴۳°C — فراه ۴۳°C — غزني ۳۱°C — ۰۷:۰۸

اسعارو بیعه

یو ډالر	۶۵.۶۰ افغانۍ
یو یورو	۷۴.۶۰ افغانۍ
یو پونډ	۸۵.۴۰ افغانۍ
یو درهم	۱۷.۸۶ افغانۍ
زر ریال	۰۳۸۰.۰۳۷ افغانۍ
زر کلداري	۲۳۰.۲۲۹ افغانۍ
زر کلداري	۷۵۳.۷۴۶ افغانۍ

بریښنایي بڼه — X

www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: مایار
د ویبپاڼې مدیر : ګل ولي افغانیار
چاپ پته: مطبعه صنعتی احمد صمدی - چهار راهی صدارت - بلال مارکیت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال:

اسلامي امارت د روغتیایي سکټور ملاتړ ته ژمن دی

د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال، مولوي عبدالسلام حنفي د کورنیو چارو وزارت د روغتیایي خدماتو د ظرفیت لوړوني سمینار د پای مراسمو کې ګډون او وینا وکړه. نوموړي په دې اړه جوړو شویو مراسمو کې د روغتیایي کارکوونکو پر مسلکي وړتیاوو د پانګونې او د خدمتونو د کیفیت پر ښه والي ټینګار وکړ. د ارګ د خبرپاڼې له مخې، دغه سیمینار د کورنیو چارو وزارت د روغتیایي خدماتو عمومي ریاست له لوري په ۳۰۰ بستریز روغتون کې جوړ شوی و او د بېلابېلو ادارو استازو او د یاد ریاست ولایتي مسؤلینو هم پکې ګډون کړی و. مولوي عبدالسلام حنفي د روغتیایي سکټور ډاکټران او کارکوونکي د ټولنې خدمتګاران . . . ۲مخ

بهرني لنډ خبرونه

ایران په اردن او بحرین کې د امریکا پوځي اډې په نښه کړې

ایران ویلي، چې د امریکا د وروستیو بریدونو په ځواب کې یې د خپلو ځوابي عملیاتو په دوام د اردن په «شهزاده حسن» هوایي اډه او د بحرین په «شیخ عیسی» هوایي اډه توغندیز بریدونه کړي دي. د ایراني چارواکو په وینا: دغه بریدونه د هغو پوځي مرکزونو پر ضد ترسره شوي، چې د امریکا ځواکونو له لوري ترې په سیمه کې پوځي فعالیتونه ترسره کېږي. د ایران د څرګندونو له مخې، په دغو بریدونو کې د امریکا د سونتوکو تاسیسات، د مهماتو زېرمې، د قوماندې او کنټرول مرکزونه او یو شمېر پوځي تجهیزات زیانمن شوي. ایراني چارواکي ادعا کوي، چې یاد عملیات د امریکا د پوځي حضور او بریدونو پر وړاندې د غبرګون په توګه ترسره شوي دي. بل لور ته، د امریکا مرکزي قوماندانۍ (سینټکام) ویلي، چې امریکایي ځواکونو د ایران لسګونه پوځي هدفونه په نښه کړي دي. د سینټکام په خبره، په دغو هدفونو کې د هوایي دفاع سیستمونه، ساحلي رادارونه، د توغندیز او هوایي ځواک اړوند ودتیاوې، پوځي بېړۍ او نور نظامي تاسیسات شامل دي.

د تایلنډ په پلازمېنه کې د شراب‌خونې اورلګېدنه؛ ۲۷ کسان مړه او ۶۳ نور ټپیان شول

د تایلنډ د پلازمېنې بنکاک ښار په یوه شراب‌خونه کې د اورلګېدنې له امله لږ تر لږه ۲۷ کسان مړه او ۶۳ نور ټپیان شوي دي. د رویټرز د راپور له مخې، دغه اورلګېدنه د بنکاک ښار په شمال کې د «رونګ بیر نا لاټ فراو» په نامه بار یا میخانه کې رامنځته شوې ده. د تایلنډ چارواکي وایي، د بېړني وتلو لارو بندوالي له امله ډېری کسان ونه توانېدل پر وخت له ودانۍ ووځي او د سخت لوګي او د اور لمبو له کبله یې ژوند له لاسه ورکړ. د تایلنډ لومړي وزیر انوتین چارنویراکول، د دوشنبې په سهار د پېښې له ځایه لیدنه وکړه او ویې ویل، تر اوسه د ۲۷ قربانیانو جسدونه له ودانۍ ایستل شوي او ټپیان روغتونونو ته لېږدول شوي دي. د بنکاک د پېښو د مخنیوي او ناورینونو کمولو ادارې د چارواکو په وینا، لومړنۍ څېړنې ښيي، چې د چت برخه کې د هوا سیستم د برېښنا لنډ اتصال د اورلګېدنې د پیل لامل شوی دی.

اندونیزیا کې د یوې ترافیکي پېښې له امله ۱۳ کسانو ژوند له لاسه ورکړی

د اندونیزیا په جاوا ټاپو کې د واده مراسمو یوه موټر له دوو نورو بار وړونکو موټرو سره ټکر کړی، چې له امله یې لږ تر لږه ۱۳ کسان مړه او پنځه نور ټپیان شوي دي. اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس راپور ورکړی، چې دغه پېښه د شمالي ساحلي لویې لارې پر سر، د ایندرامایو ولسوالۍ د «کیاجاران کولون» کلي ته څېرمه شوې ده. پولیسو ویلي، چې قربانیان په یوه ګاونډي کلي کې د واده له مراسمو تر ګډون وروسته په یوه خلاص بار وړونکي موټر کې خپلو کورونو ته ستنېدل، چې له دې پېښې سره مخ شوي دي. د سیمې د ترافیک پولیسو مشر اوندانګ شاریف هدایت ویلي، چې د ټکر شدت د دې لامل شو څو د مېلمنو لېږدوونکی موټر د سړک مقابل لوري ته وغورځېږي او هلته له یوه بل بار وړونکي موټر سره هم ټکر وکړي.

په ځلورو ولایتونو کې نږدې زر راستنو شویو هېوادوالو ته استوګنیزې نمرې وېشل شوې

د کور او ښار جوړولو وزارت وايي، چې په څلورو ولایتونو کې ۹۸۵ راستنو شوو کورنیو ته د ځمکې نومرې وېشل شوې دي. د کور او ښار جوړولو وزارت د دوشنبې په ورځ د خبرپاڼې په خپرولو ویلي، په ننګرهار، فراه، فاریاب او نیمروز ولایتونو کې ۹۸۵ راستنو شوو کډوالو کورنیو ته د دايمي استوګنې په موخه د ځمکې نمرې ووېشل شوې. سرچینه زیاتوي، په ننګرهار کې ۶۸۱ کورنیو ته، په فراه کې ۵۹ کورنیو ته، فاریاب کې ۱۱۰ کورنیو ته او په نیمروز کې ۱۳۵ راستنو شوو کورنیو ته د ځمکې نمرې وېشل شوې دي . . . ۲مخ

شیخ محمد خالد الحنفي:

په افغانستان کې د اسلامي اصولو له مخې د بشر حقوق تأمین دي

د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزیر شیخ محمد خالد الحنفي د هېواد لوېدیځو ولایتونو ته د رسمي سفر پر مهال د هرات، فراه، غور او بادغیس ولایتونو له دیني عالمانو، قومي مخورو متنفذینو او مسؤلینو سره د یاد وزارت د قانون د تطبیق، د معروفاتو اقامې او د منکراتو مخنیوي کې د ګډې همږغۍ په موخه په هرات کې ناسته کړې ده.

یاد وزارت په یوه خبرپاڼه کې لیکلي: «د بشري حقوقو نړیوال دعوه داران اصلاً د بشر د حقوقو په تعریف نه پوهېږي، ځکه د بشر حقوق یوازې دوه درې مسایل نه دي بلکې امنیت، د ژوند، مال او عزت ساتنه، له فساد او بې لارې څخه راګرځول، له نشه يي توکو خلاصون او ورته نور د بشر اساسي حقونه دي، چې یوازې اسلامي نظام دا حقوق ورکړي.»

نوموړي زیاته کړې، چې نړیوال کفري جهتونه د نړۍ په نورو سیمو کې د زرګونو ښځو او ماشومانو په قتل عام او پر هغوی د کېدونکو وحشتونو په تراو چپ پاتې دي؛ خو په افغانستان کې د حجاب په کولو، یا دې ته ورته نورو، چې د شریعت حکم وي، غوغا جوړوي او واقعیتونه د خپلو سیاسي . . . ۲مخ

د فرهنګ او هنر معین د فتحې ورځې د هنري پروګرامونو په اړه له هنرمندانو سره وکتل

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر معین مولوي عتیق الله عزیزي، د هنرستان ریاست په ملي نګارستان کې له لسګونو استادانو، خطاطانو، میناتورانو او نقاشانو سره کتلي دي.

خبرپاڼه کې راغلي، چې د دغې کتنې موخه د زمري ۲۴مې (د فتحې ورځې) د نمانځنې په مراسمو کې د خطاطانو، میناتورانو، نقاشانو او هنرمندانو ګډون، د هنري اثارو له لارې د دې ورځې د اهمیت او لاسته راوړنو د انعکاس، د ملي روحیې پیاوړتیا، د اسلامي، هنر او فرهنګ ترویج او د هنر په ژبه نړۍ ته د فتحې ورځې د پیغام رسول دي.

د فرهنګ او هنر معین د هنر پر ارزښت خبرې کړې او ویلي یې دي: دا کتنه د فتحې ورځې د نمانځنې په مراسمو کې د خطاطانو، نقاشانو، میناتورانو او نورو هنرمندانو د فعاله ونډې اخیستو په موخه ده؛ څو هنرمندان د خپلو هنري اثارو له لارې د اسلامي امارت لاسته راوړنې او قرباني ننداري ته وړاندې کړي.

مولوي عتیق الله عزیزي زیاته کړې، چې د فتحې ورځې په مناسبت به د لویې جرګې په تالار، د کابل . . . ۲مخ

ننګرهار کې د کورنیو تولیداتو نندارتون پرانیستل شو

ننګرهار کې د یوه خصوصي شرکت له لوري د کورنیو تولیداتو درې ورځنی نندارتون پرانیستل شو. مسؤلین وايي: د دې نندارتون په نږدې ۱۰۰ غرفو کې توکي ننداري ته اېښودل شوي، چې موخه یې کورنیو تولیداتو ته د مناسب بازار موندل او د کورني صنعت پیاوړتیا ده. د نندارتون جوړونکي، مسعود حقمل وايي: «د هېواد له بېلابېلو ولایتونو نږدې سل صنعتکارانو غرفې پرانیستې او د ودانیزو، کرنیزو، لبنیاتو او خوراکي توکو په برخه کې یې خپل محصولات ننداري ته اېښې دي.»

د نندارتون ځینې ګډونوال د کورنیو تولیداتو د بازار موندنې او ودې په موخه د نندارتونونو جوړول اغېزناک ګام ګڼي.

په نندارتون کې غرفه لرونکي، اجمل شیرزاد وايي: «افغانستان، په ځانګړې توګه ننګرهار کې دغه راز نندارتونونه ګټور دي، ځکه زموږ تولیدات په ټول افغانستان کې خلکو ته وروپېژندل کېږي، څو تري ګټه واخلي.»

په ورته مهال، د ننګرهار سیمه‌ییز مسؤلین په دغه ولایت . . . ۲مخ

افغانستان بانک:

افغاني بانکنوټونه لوړ کیفیت لري، خو ساتنه یې د خلکو مسئولیت دی

د افغانستان بانک مسؤلین وايي چې د افغانیو د چاپ بهیر په نړیوالو معیارونو سره سم چاپ کېږي او د نورو هېوادونو بانکنوټونو پر وړاندې زیات عمر لري. دوی وايي: افغانۍ چې د لوړ کیفیت څخه برخمنې دي؛ خو ساتنه هم غوارې چې هېوادوال یې په سمې کارونې سره د افغانستان بانک سره مرسته کولای شي. چارواکي زیاتوي: د هېوادوالو د افغانیو د ساتنې بې غورۍ له امله تېر کال څه باندې ۲.۵ میلیارده مندرس بانکنوټونه له منځه وړي دي. کابل ښاریان هم د پیسو په زرښت کې یاده ستونزه مني او وايي چې هېوادوال مو د خپلو پیسو ساتلو پر ځای د نورو هېوادونو پیسې ښې ساتي. دوی وايي مونږ ټول د افغانیو . . . ۲مخ

هرات کې د یوې مېرمنې له لوري د جوړې شوې کارخونې تولیدات بهر ته صادرېږي

هرات کې یوې مېرمنې د سینګار توکو د تولیدي کارخونې په جوړولو سره له شلو ډېرو ښځو او نجونو ته د کار زمینه برابره کړې ده. حمېدې عمري دا کارخونه شاوخوا یو کال وړاندې د ۵ زره افغانیو په پانګونې سره جوړه کړې او اوس یې تولیدات د امریکا، فرانسې او ایران په ګډون ډېرو هېوادونو ته صادرېږي.

حمیده عمري د خپل کاروبار په اړه وايي: «زموږ پېرودونکي د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو او همدارنګه د ایران، امریکا او فرانسې په ګډون په بهر کې مېشت افغانان دي.» د سینګار توکو د تولیدي کارخونې کارکوونکې، عزیزه هاشمي وايي: «زموږ تولیدات ډېر لږ وو، له یوې کوچنۍ اندازې مو پیل وکړ او ورو ورو مو پرمختګ وکړ. هغو مېرمنو چې زموږ محصولات یې کارولي، ډېر ښه هرکلی یې کړی دی.» په دې کارخونه کې له درملیزو بوټو ۱۲ ډوله سینګار توکي جوړېږي.

د کارخونې کارکوونکې، ناهید وايي: «دلته ټولې ښځې . . . ۲مخ